


Schweizerische Eidgenossenschaft
Confédération suisse
Confederazione Svizzera
Confederaziun svizra

Eidgenössisches Justiz- und Polizeidepartement EJPD
Département fédéral de justice et police DFJP
Dipartimento federale di giustizia e polizia DFGP
**Staatssekretariat für Migration SEM**
**Secrétariat d’Etat aux migrations SEM**
**Segreteria di Stato della migrazione SEM**


# لنډ معلومات

## B
قبول شوي کډوال
B پېژندپاڼه —

## F
په لنډمهاله توګه پېژندل شوي کډوال
F پېژندپاڼه —

## F
په لنډمهاله توګه منل شوي کسان
F پېژندپاڼه —

paschtu



# سویس ته ښه راغلاست !

تاسو په سویس کې پناه اخیستې یا په موقتي توګه منل شوي یاست. ځانګړي مقررات ستاسو لپاره شتون لري. موږ غواړو تاسو ته د دې بروشر له لارې پدې اړه معلومات درکړو .

تاسو به اوس په سویس کې د اوږدې مودې لپاره ژوند کوئ. له همدې امله دا مهمه ده چې تاسو خپله لاره ومومئ او ژر تر ژره دلته مدغم شئ. ددې لپاره دنورو شیانو سره سم اړینه ده چې تاسو د خپلو حقوقو او مکلفیتونو څخه خبر شئ او هلې ځلې وکړئ چې کار پیدا کړئ او علم ترلاسه کړئ. په دې بروشر کې به تاسو د ځانګړو مقرراتو په اړه لومړني معلومات ومومئ کوم چې ستاسو د وضعیت سره مناسب دي او همدارنګه د نورو پتو او معلوماتو لینکونه به ترلاسه کړئ.

د دولت سکرټریت د مهاجرینو لپاره SEM

**دا کتابچه په الکترونیکي بڼه په لاندې ژبو کې شتون لري: الماني، فرانسوي، ایټالوي، انګلیسي، عربي، تیګرینیا، کرد، تبتی، فارسي، تامل، سومالي، پښتو او سربیا/کروشیا/بوسنیایی**

www.sem.admin.ch/info-integration

# چټک معلومات
# فهرست

B

قبول شوي کډوال
B پېژندپاڼه —

F

په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال
F پېژندپاڼه —

F

په لنډمهاله توګه منل شوي کسان
F پېژندپاڼه —

# قبول شوي کډوال — B پېژندپاڼه

B

کډوال هغه څوک دی چې په خپل هیواد یا اصلي هیواد کې د خپل نژاد، مذهب، ملیت، د یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې غړیتوب یا سیاسي نظر له امله له جدي ناخوالو سره مخامخ وي یا څوک چې د دې ډول پېښو د افشا کېدو څخه ویره لري او یا له زیانونو سره مخامخ وي. دا تعریف د کډوالو د وضعیت په اړه د تړون (د جینوا د کډوالو کنوانسیون) پر بنسټ ولاړ دی. په جدي زیانونو کې شامل دي، په ځانګړې توګه، ژوند، د پیښو یا آزادۍ خطر او همدارنګه هغه اقدامات چې د نه زغملو رواني فشار لامل کیږي. د تیښتې لپاره د ښځو ځانګړې دلیلونه په پام کې نیول شوي.

د جینیوا د کډوالو کنوانسیون دا هم په ګوته کوي چې هیڅوک نشي کیدای داسې یو هیواد ته واستول شي چیرې چې سړی د پورته ذکر شوي خطرونو سره مخامخ وي

## قانوني بنسټ

**د کډوالو قانوني حالت د جینوا د کډوالو کنوانسیون پایله ده. په ملي کچه دا د پناه غوښتنې قانون (۶۲-۵۸ مادې) کې تنظیمیږي.**
**اړوند قانون دلته موندلی شئ:**
www.admin.ch/ch/d/sr/c142_20.html

## د بهرنیانو د هویت کارت

**پېژندل شوي کډوال په کنټول کې د استوګنې اجازه لري چېرې چې دوی په قانوني توګه ژوند کوي (د بهرنیانو پېژندپاڼه B). دا یو کال پورې محدود دی، مګر معمولا تر هغه وخته پورې تمدید کېږي چې کډوالو د تېښتې دلیلونه دوام ولري. په سویس کې د لسو کلو استوګنې وروسته د دایمي استوګنې اجازه (پېژندپاڼه C) صادره کېدی شي، که چېرې د ادغام معیارونه سر ته رسېدلي وي او د لغوه کېدو لپاره هیڅ کوم دلیل شتون نه ولري. که ادغام بریالی وي او د استوګنې په ځای کې د هغه ځای په ملي ژبه تفاهم سرته رسېدلای وي نو د استوګنې د اجازې لپاره غوښتنلیک یوازې پنځه کاله وروسته سپارل کیدی شي.**

# په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال
# F پېژندپاڼه —

F

په لنډمهاله توګه منل شوی کډوال هغه کس دی چې د کډوالۍ حیثیت یې پوره کړی وي خو د پناه ورکولو د دلیلونو د نه شتون له آمله پناه نه شي ورکوله کېدی. دا هغه حالت ده چې ځوک یوازې د خپل هیواد یا اصلي هیواد پرېښودو یا د هیواد پرېښودو وروسته په خپل هیواد کې د وضعیت له امله کډوال شي. هغه کډوال چې د پناه د تر لاسه راوړلو لپاره کافي دلیلونه نه ولري په لنډمهاله توګه منل کېږي.

## قانوني بنسټ

**د جنیوا د کډوالو کنوانسیون په پایله کې په موقتي توګه منل شوي کډوال قانوني حیثیت لري. لنډمهاله داخله د بهرنیانو او ادغام په فدرالي قانون کې تنظیم شوې ده (88-a83 مادې).**
**اړوند قانون دلته موندلی شئ:**
www.admin.ch/ch/d/sr/c142_20.html

## د بهرنیانو د هویت کارټ

**په موقتي توګه منل شوي کډوال او هغه کسان چې په لنډمهاله توګه منل شوي وي د F د هویت کارت تر لاسه کوي. دا د اعظمي دولسو میاشتو لپاره ورکرول کېږي چې د استوګنې د ځای په کنټون کې د نورو دولسو میاشتو لپاره تمیدید کېدی شي. په سویس کې د پنځه کلو د استوګنې وروسته په موقتي توګه منل شوي کډوال او په موقتي توګه منل شوي کسان کولی شي د استوګنې د اجازې (پېژندپاڼه B) د ترلاسه راوړلو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي.  چارواکي به د غوښتنلیک په څېړلو کې د غوښتنلیکونکو ادغام، د هغو د کورنۍ شرایط او د هغو اصلي هیواد ته د راستنیدو معقولیت په پام کې نیسي.**

# په لنډمهاله توګه منل شوي کسان – پېژندپاڼه F

F

هغه کسان چې د پناه غوښتنه يې رد شوې وي مګر ديپورټ کېدی نشي د لاندې دليلونو لپاره په لنډمهاله توګه منل کيږي: د هيواد څخه په هغه وخت کي اخراج کيدل ترسره کيدی نه شي (که د مثال په توګه، د سفر اسناد ترلاسه نشي)، اخراج امکان ونلري (که اخراج د نړيوالو قوانينو څخه سرغړونه وي. د قانون احکام) او يا اخراج غير معقول وي (د بيلګې په توګه د جګړې له امله يا په اصلي هيواد کې د عمومي تاوتريخوالی د حالت له امله).

## قانوني بنسټ

**د هغو کسانو قانوني حالت چې په لنډمهاله توګه منل شوي دي د بهرنيانو او ادغام په فدرالي قانون کې تنظيم شوي ده (88-a83 مادې).**
**اړوند قانون دلته موندلی شئ:**
www.admin.ch/ch/d/sr/c142_20.html

## د بهرنيانو د هويت کارت

**په موقتي توګه منل شوي کډوال او هغه کسان چې په لنډمهاله توګه منل شوي د F د پېژندپاڼه تر لاسه کوي، دا د اغظمي دولسو مياشتو لپاره ورکول کېږي او د استوګنې په ځاک کي د نورو دولسو مياشتو لپاره تمديد کيدی شي. په سويس کې د پنځه کلو استوګني وروسته په موقتي توګه منل شوي کډوال او پّ موقتي توګه منل شوي کسان کولی شي د استوګنې د اجازط (پېژندپاڼه B) لپاره غوښتنليک وړاندي کي. چارواکي به د غوښتنليک په څېړلو کي د ادغام، د کورنۍ شرايط او د غوښتنليکونکو د هغو اصلي هيواد ته د راستنېدو معقوليت په پام کي ونيسي .**

# استوګنه

پیژندل شوي کډوال، په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال او په لنډمهاله توګه منل شوي کسان د پناه غوښتنې د پروسې په جریان کې یا وروسته له هغه څخه  یوه کانتون ته ټرانسفر/لیږل کیږي. تاسو به د پناه غوښتنې له پریکړې وروسته هم په دې کانتون کې اوسیږئ. تاسو کولی شئ په آزاده توګه خپل د اوسیدو ځای په هغه کانتون کې وټاکئ چې تاسو ته ټاکل شوي وي. په لنډمهاله توګه منل شوي خلک چې ټولنیزې مرستې ترلاسه کوي د کانټونال چارواکو لخوا د دوی د اوسیدو ځای یا د ژوند کولو ځای ټاکل کیدی شي. تاسو باید خپل د استوګنې پته د کانټونال مسؤل چارواکو ته ورکړئ. د بهرنیانو د تذکرې کارت یوازې په هغه کانتون کې اعتبار ور دی چې تاسو ته ټاکل شوی وي.

**د کرایه کوونکو لپاره په ۱۶ ژبو کې ګټور معلومات:**
www.bwo.admin.ch/bwo/de/home/wie-wir-wohnen/infoblatt-wohnen/infoblatt.html

**د سویس کرایه کونکو ټولنه :**
www.mieterverband.ch

# د کانټون بدلول

B

پيژندل شوي کډوال کولی شي د کانټون د مهاجرت دفتر کي د کينټون د بدلولو لپاره غوښتنليک وسپاري چيرې چې دوی غواړي حرکت وکړي. يو غوښتنليک معمولا تصويب کيږي که چيرې غوښتونکی د تل لپاره په ټولنيزې مرستې پورې تړلی نه وي يا د مهاجرت قانون لاندې د لغوه کيدو بل دليل شتون ولري .

---

F

هغه کډوال چې په لنډمهاله توګه منل شوي دي کولی شي د کانتون د بدلون لپاره غوښتنه وکړي. يو غوښتنليک معمولا تصويب کيږي که چيرې غوښتنليک ورکوونکی په دايمي توګه په ټولنيزو مرستو پورې تړلی نه وي يا د مهاجرت قانون له مخې د لغوه کيدو بل دليل شتون ولري. د کانټون د بدلون لپاره غوښتنليک بايد مستقيم SEM ته وسپارل شي.

---

F

هغه کسان چې په لنډمهاله توګه منل شوي کولی شي د کانټون د بدلون لپاره غوښتنه وکړي. غوښتنليک بايد مستقيم SEM ته وسپارل شي . SEM د هغو کانټونو سره بيا اړيکي نيسي چې تاسو ورتګ غواړئ او د غوښتنليک په اړه پريکړه کوي. غوښتنليکونه تصويب کيږي که چيرې د کورنۍ د يوځای کيدلو حق شتون ولري يا که دواړه کانتونونه د بدلون سره موافق وي.

# سفر بهرني هیوادو ته

پیژندل شوي کډوال او په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال کولی شي د مهاجرت د دفتر څخه د دوی د استوګنې په کانتون کې د کډوال د سفر سند د تر لاسه کولو لپاره غوښتنه وکړي، چې ددې سند له لیارې دوی کولی شي بهر او بیرته سویس ته سفر وکړي. د دې کار د کولو لپاره، تاسو باید په شخصي توګه دفتر ته حاضر شئ. د سفر سند د SEM لخوا صادر کېږي او معمولا د پنځو کلونو لپاره اعتبار لري.

B
F

**پاملرنه: د مهاجرینو لپاره د سفر سند تاسو ته دا حق نه ورکوي چې خپل هیواد یا اصلي هیواد ته ورشئ. که چیرې یو پیژندل شوی کډوال یا په موقتي توګه منل شوي کډوال خپل هیواد یا اصلي هیواد ته سفر وکړي، د دوی د کډوالۍ حیثیت لغوه کیدی شي.**

**دا هم باید په پام کې ونیول شي چې د کډوالو لپاره د سفر سند په اتوماتیک ډول دوی نورو هیوادونو ته د ننوتلو حق نه ورکوي. د سیاحتي موخو لپاره د شینګین په سیمه کې ایالتونو ته ننوتل عموما د دریو میاشتو لپاره د ویزې پرته امکان لري. نورو هیوادونو ته د ننوتلو لپاره، ممکن د ویزې صادرولو ته اړتیا وي. مهرباني وکړئ د هغه دولت چارواکو سره وګورئ چې تاسو هلته سفر کول غواړئ.**

---

هغه کسان چې په لنډمهاله توګه منل شوي نشي کولی په آزاده توګه سفر وکړي. ستاسو د وطن پاسپورټونه باید د SEM سره زیرمه شي. په ثقه شویو قضیو کې (د بیلګې په توګه جدي ناروغۍ یا د کورنۍ د غړو مړینه)، تاسو کولی شئ په شخصی توګه د مهاجرت په دفتر کې حاضر شئ او د بیرته ستنیدو د ویزې د تر لاسه راوړلو لپاره غوښتنلیک وړاندي کړئ. که تاسو د خپل وطن د پاسپورت ترلاسه کولو امکانات ونلرئ، نو تاسو کولی شئ د بهرني کس لپاره د سفر سند لپاره غوښتنه وکړئ، کوم چې سفر کولو ته لاره هواره کوي. دا یوازې د منظور شوي سفر لپاره کارول کیدی شي.

F

# د کورنۍ راغوښتل او د کورنۍ قبولي

B

پیژندل شوی کډوال اجازه لري چې خپل د کورنۍ غړي (میړه، راجستر شوي د ژوند شریکان او د 18 کلونو څخه کم ماشومان) سویس ته راوغواړي. دوي به د مهاجرو په توګه وپیژندل شي، په دې شرط چې د کورنۍ اړیکي د تیښتې دمخه شتون لرلي وي او که چیرې کوم ځانګړي شرایط شتون ونلري چې ددې کار د کېدو مخنیوی وکړي.
د پیژندل شوي کډوال ماشومان چې په سویس کې زیږیدلي دي په اتوماتیک ډول د پیژندل شوي کډوال دریځ نه ترلاسه کوي. له همدې امله، د زیږون وروسته ژر تر ژره باید SEM ته یو غوښتنلیک وسپارل شي ترڅو ماشوم د کډوال په توګه وپیژندل شي.

---

F
F

وروسته له دې چې په موقتي ډول منل شوي کډوالو او هغه کسانو ته چې په لنډمهاله توګه منل شوي اقامت ورکړل شي باید کم له کمه دری کاله صبر وکړي تر څو چې د مهاجرت اداري ته د کورنۍ د راغوښتلو لپاره غوښتنلیک وړاندي کوي. یوازې میړه، راجستر شوي شریکان او د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي نا واده ماشومان راغوښتل کیدی شي. د کورنۍ د یوځای کېدو او د راغوښتلو لپاره شرط دا دی چې د کورنۍ غړي یو ځای په یو کور کې ژوند وکړي، او د یو ځای ژوند کولو لپاره کور ولري، د دولت مرستي ته اړتیا ونه لري او د استوګنځني د سیمې ملي ژبه باندي خبري وکړی شي.
د کورنۍ د راغوښتلو او د تاسو سره د یوځای کیدو لپاره د وخت شرط که پوره وي، نو د کورنۍ دراغوښتلو غوښتنلیک باید په راتلونکو پنځو کلونو کې وړاندي شي. د دولسو کلونو څخه لوی ماشومانو د راغوښتلو غوښتنلیک باید په راتلونکو دولسو میاشتو کې وسپارل شي .

# ادغام

هر هغه څوک چې په سویس کې د اوږدې مودې لپاره ژوند کوي باید ژر تر ژره او دوامداره توګه مدغم شي. د دې کولو لپاره، دا اړینه ده چې تاسو خپل ځان ته معلومات تر لاسه کړئ او هڅه وکړئ چې محلي ژبه زده کړئ، کار وکړئ او په ټولنیز ژوند کې برخه واخلئ. سویس د ادغام د پروسې او کړنلارې له پروګرامونو او پروژو څخه ملاتړ کوي او هڅه کوي چې د هرچا لپاره مساوي لاسرسی تضمین کړي. د ادغام موخه چې د فدرالي اساسي قانون د ارزښتونو په بنسټ ولاړ ده، داده چې د متقابل درناوی او زغم او همدارنګه د ځایی او بهرنیو اوسېدونکو د ګډ ژوند فضا برابره کړي.

B
F
F

**د سویس د ادغام پالیسۍ په اړه نور معلومات:**
www.integrationsagenda.ch
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/themen/integration.html

# ادغام ته وده ورکول

ډیری دولتي او خصوصي سازمانونه په سویس کې د پیژندل شوي مهاجرینو ملاتړ لپاره کورسونه او پروګرامونه وړاندې کوي، له هغو کډوالو سره چې په موقته توګه منل شوي او له هغو کسانو سره چې په لنډمهاله توګه منل شوي ددوی د ادغام په پروسه کې ملاتړ کېږي. مشوره ترلاسه کړئ او د وړاندیزونو څخه ګټه واخلئ! اړین معلومات د ادغام د مرکزونو یا د کانټونال ادغام دفترونو څخه ترلاسه کیدی شي.

B
F
F



**د ادغام د هڅولو په اړه نور معلومات**
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/themen/integration/foerderung.html

**په کانټونونو او ښارونو کې د ادغام لپاره د اړیکو نقطې:**
www.sem.admin.ch/sem/de/home/ueberuns/kontakt/kantonale_behoerden/kantonale_ansprechstellen.html

**د کانټونال ادغام پروګرامونو په اړه معلومات**
www.kip-pic.ch/de :(KIP)

# ښوونځی او زده کړه

د پیژندل شویو مهاجرو ماشومان، په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال او هغه کسان چې په لنډمهاله توګه منل شوي د نورو ټولو ماشومانو په څیر ښوونځي ته ځي چې په سویس کې ژوند کوي. اجباري ښوونځي، د وړکتون په ګډون، یوولس ښوونځي کلونه دوام کوي او د ژوند په څلورم کال کې پیل کیږي. له خپلو خپلو وړتیاوو سره سم دوی بیا کولی شي حرفوي زده کړې بشپړ کړي یا په لیسه کې برخه واخلي او وروسته، که وغواړي، پوهنتون ته تلای شي.

B
F
F

**د ښوونځي او حرفوي زده کړو په اړه نور معلومات:**
www.ch.ch/private/00060/00062/index.html?lang=de
www.berufsbildung.ch

# نوري زدکړې

د سویس د کار بازار له کارکوونکو څخه لوړې غوښتنې لري، د بیلګې په توګه د ژبني او تخنیکي مهارتونو په اړه. د بهرنیانو وړتیاوې او استعدادونه اکثرا د کار بازار غوښتنې نه پوره کوي یا د دوی برې لیکونو ته معتبر نه کتل کیږي. د ژبې کورسونه، نورې روزنې یا نور وړاندیزونه به د تاسو سره د کار نړۍ ته د لاسرسي موندلو کې مرسته وکړي. تاسو کولی شئ اړین معلومات او مشوره د ادغام وړتیا مرکزونو او د کانټونل مسلک مشورې مرکزونو څخه ترلاسه کړئ.

B
F
F



**په کانتونونو کې د حرفوي، مطالعې او مسلک مشورې پتې:**
www.berufsberatung.ch/dyn/show/8242

# کار

کار او اقتصادي خپلواکي په ټولنه کې د ادغام مهم عوامل دي. د هغو وړاندیزونو څخه ګټه پورته کړئ چې ستاسو لپاره د کار نړۍ ته د ننوتلو لاره اسانه کوي او د مسؤل چارواکو څخه مشوره ترلاسه کړئ. تاسو باید په فعاله توګه د دندې په لټه کې شئ.

تاسو کولی شئ په سویس کې هرچیرې کار وکړئ. د ځانګړو شرایطو لاندې، دا هم ممکنه ده چې د یوې اونۍ لپاره تاسو د کار په ځای کې وخت تېر کړئ. کاردرکوونکی باید د کار پیل کولو دمخه د کار په ځای کې د کانټونال چارواکو ته د تاسو د کار د پیل کولو راپور ورکړي. د دندې د پای ته رسیدو او د دندې د بدلون په اړه هم باید راپور ورکړل شي. راپور د نورو شیانو په مینځ کې د کارمندانو ساتنه کوي. موخه دا ده چې ددې مخنیوی کېږي چې تاسو ته تر نورو خلکو ټیټ معاش درنکړل شي.

د کنټونونو د بدلولو په اړه مقررات (7 مخ وګورئ) باید لاهم په پام کې ونیول شي.

**د کار او دندې لټون په اړه هرڅه:**
www.treffpunkt-arbeit.ch

**د کارمندانو لپاره معلومات:**
www.ch.ch/de/arbeit

B
F
F

# د روغتيا پاملرنه

سويس ښه روغتيايی خدمتونه وړاندې کوي. معلومات تر لاسه کړئ چې تاسو او ستاسو کورنۍ څنګه صحتمند ژوند کولای شئ او کوم امکانات شتون لري.
ټول هغه خلک چې په سويس کې ژوند کوي مکلف دي چې د روغتيا د بېمې په دفتر کې خپل ځانونه ثبت کړي . د ورځني ژوند د نورو برخو په څير، د روغتيا په برخه کې دا اړينه ده چې تاسو د امکان ترحده ددغه هيواد په ملي ژبه باندې معلومات ترلاسه کړئ او خپل ځان په هر شي پوه کړئ.

B
F
F

**د عامې روغتيا فدرالي دفتر د فزيکي او رواني رنځونو د مخنيوي او درملنې په اړه په مختلفو ژبو هر اړخيز معلومات وړاندې کوي:**
www.migesplus.ch

**د سويس سره صليب SRK په برن، زيوريخ، جينوا او لوزان کې د شکنجې او جګړې قربانيانو او د هغوی خپلوانو ته طبي او رواني درملنې او مشورې وړاندې کوي:**
www.redcross.ch/de/organisation/ambulatorium-fuer-folter-und-kriegsopfer/hilfe-fuer-traumatisierte-menschen

**په سينټ ګالين کې د رواني ناروغيو مرکز GRAVITA د شکنجې او جګړې قربانيانو او د دوی خپلوانو لپاره طبي او رواني درملنې مرستې او مشورې وړاندې کوي:**
www.gravita.ch/angebot/

# ټولنیزه بیمه

سویس د ټولنیزي بیمې ښه پرمختللی شبکه لري. د ټولنیزي بیمې  هره څانګه خپلي ګټې د هر چا دعایداتو د یوې برخي له لاري تر لاسه راوړي. د یو پیژندل شوي کډوال په توګه، په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال او په لنډمهاله توګه منل شوي شخص، تاسو د ونډې ورکولو مسؤلیت لرئ او د سویس اتباعو په څیر د ګټو مستحق یاست.
ټولنیزه بیمه بیمه شوي اشخاصو ته د  هغو خطرونو پروړاندې محافظت ورکوي چې مالي پایلې یې یوازې نشي اداره کولی (د بیلګې په توګه بیکارۍ یا معیوبیت). ددغه برسېره  زړو خلکو ته د تقاعدي پیسې هم ورکول کېږي. په همدارنګه د تقاعدي پیسې  د ښځې، مېړه یا مور او پلار د مړیني په صورت کي (یوازي د اتلسو کلو څخه کوچني ماشومانو ته) ورکول کیدی شي. کارکوونکي د دوی د کارورکوونکو  لخوا د حادثو او حرفوي ناروغیو پروړاندې بیمه کیږي.

**د ټولنیزې بیمې په اړه نور معلومات:**
www.bsv.admin.ch/bsv/de/home/sozialversicherungen/ueberblick.html

**د بیکارۍ بیمې لپاره :**
www.treffpunkt-arbeit.ch/arbeitslos/erste_schritte/

**نوري بېمې:**
www.ch.ch/de/versicherungen



# مالیه

پیژندل شوي کډوال، په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال او په لنډمهاله توګه منل شوي کسان باید په سویس کې مالیه ورکړي. دوي څخه د کویلنشتویر Quellensteuerمالیه اخیستل کېږي. دا په دي معنی چې د مالیاتو اندازه په مستقیم ډول د معاشونو څخه کمیږي (د مستقیم فدرالي مالیاتو د فدرالي قانون 83 څخه تر 110 مادې). د مالیاتو اندازه کیدای شي د کانټون څخه تر کانټون پورې توپیر ولري.

B
F
F

## ټولنیزه مرسته

ټولنیزې مرستې د مالیې په پیسو تمویلیږي. د ټولنیزو مرستو د ورکولو اندازه کیدای شي له کانټون تر کانټون پورې توپیر ولري. په هرصورت، په ډیرو کانټونونو کې، د ټولنیزو مرستو په اړه د سویس کنفرانس (SKOS) لخوا ټاکل شوي ونډې محاسبه کولو لارښوونې کارول کیږي. دا په سویس کې عادلانه او اغیزمنه ټولنیزه مرسته تضمینوي.

---

B
F

که پیژندل شوي کډوال او په لنډمهاله توګه منل شوي کډوال په خپله د خپل ژوند عاید نه وکولای شي چې تر لاسه یې کړي نو دوی د سویسیانو په شان د ټولنیزې مرستې د ترلاسه کولو حق لري.

---

F

دا چې په لنډمهاله توګه منل شوي کسان څومره ټولنیزي مرستي تر لاسه کولای شي، په هر کانټون کې بېلابېل تنظیم کیږي. معمولا، هغو کسانو ته چې په لنډه توګه منل شوي وي کمې ټولنیزي مرستي ورکول کېږي تر هغه کډوالو چې په لنډمهاله توګه منل شوي او د پېژندل شوي کډوالو پوري.

**نور معلومات په لاندې پته :**
www.skos.ch/themen/sozialhilfe

**له ټولو هغه کسانو چې د کار کولو توان لري تمه کیږي چې د ټولنیزې مرستې څخه خپلواکه شي او د دې وړتیا ولري چې د ځان او کورنۍ لپاره په خپله خواري وباسي.**

# مهم اډرسونه

**د کانټونال مهاجرت او د کار بازار ریاست:**
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/ueberuns/kontakt/kantonale_behoerden/adressen_kantone_und.html

**د کانټونال طابعیت اخیستلو ریاست :**
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/ueberuns/kontakt/kantonale_behoerden/kantonale_einbuergerungsbehoerden.html

**په کانتون که د اوسېدونکو د ثبتولو ریاست :**
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/ueberuns/kontakt/kantonale_behoerden/Adressen_Meldeverfahren.html

**په کانتونونو او ښارونو کې د ادغام لپاره د تماس نقطې :**
www.sem.admin.ch/bfm/de/home/ueberuns/kontakt/kantonale_behoerden/kantonale_ansprechstellen.html

# نور کتېور لینکونه

**د سویس چارواکو آنلاین:**
www.ch.ch

**د مهاجرت لپاره د بهرنیو چارو سکرټریت** SEM
www.sem.admin.ch

**د مهاجرت د مسلو فدرالي کمیسیون** EKM
www.ekm.admin.ch




## Impressum

**نشر کوونکی** — **د مهاجرت لپاره د بهرنیو چارو سکرټریت** SEM
Quellenweg 6, CH–3003 Bern-Wabern

**اداري کار** — **د پناه غوښتني د کړنلاري او د عمل څانګه**

**ترتیب** — meierkolb, Luzern

**عکاس** — **لوځرن** Luzern **، فابیان بیاسیو** Fabian Biasio

**د راټولو ځای** — **د فدرالي خپرونو ویش** BBL
CH–3003 Bern
www.bundespublikationen.admin.ch

**لومړی کنه ۲۰۲۴**


Böhler Thyssen



دا بروشر په لاندي ژبو کې په برېښنايي بڼه کي شته دی: جرمني
فرانسوي، ایټالوي، ایټالوي، انګلیسي، عربي، تیګرینیا، کردي، تبتي، فارسي،
ماميلي، سومالي، سربيا/کروشيا/بوسنيايي او پښتو

www.sem.admin.ch/info-integration